AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۴/۰۵/۰۴

# د پوهنتون خاطرې

## (۱۶)




زموږ د پوهنتون د لیلیې او د جلوزو د عمومي سړک ترمنځ د خړو، ختینو او کوچنیو کورونو مابین کې ستر جومات ودان و. دا یې د کونړیانو جومات باله او د دې جومات خلکو لکه چې له یوه خراباتي تنظیم او له عربانو سره پخې حسنه اړیکې درلودې. د روژې مبارکه میاشت وه. له مهاجر بازاره چې راتللم؛ نو همدلته له موټره ښکته شوم. ما ویل هم به د روژې پاتې وروستی ساعت ښه تیر شي او هم به لږ قدم ووهم. د جومات ور پرانیستی و. انګړ کې یو شور و. د وریژو له غټو غټو دیګونو خلک غوړ غوړ تاویدل. د یوه یې سرپوښ لرې کړ، د زیرې بوی داسې چټک ځان را ورساوه چې قدم اخیستلو ته یې نه پرېښودم. لکه له اوږدې مساپرۍ وروسته چې مساپر بیا روانیږي او کوچنۍ لور یې له پښو لاسونه تاو کړي وي او نه یې پرېږدي. ټکنی شوم، بیا مې ویل کیدای شي کوم خصوصي پروګرام وي. په نا بللي تګ راته ځان غاصب ښکاره شو. په داسې حساس وخت کې راته د عبدالله بن عمر رض نه دا روایت شوی حدیث رایاد شو:

... "ومن دخل علی غیر دعوة دخل سارقا وخرج مغیرا"

یعنې څوک چې بې له دعوته د چا میلمستیا ته لاړ شي؛ نو ګویا چې غله غوندې ورغی او د غاصب په څیر ترې راووت .

په نه زړه د جومات له مخې تیر شوم، لیلیې ته لاړم او روژه ماتی مې د نورو ورځو په څیر په یو نواخته خوړو وکړ؛ خو د زیرې بوی هماغسې په دماغ کې تاویده راتاویده او د اشتهاء غدوات یې وخت نا وخت راپارول .

بالاخره مقاومت نتیجه نداد؛ یو ماښام مې هماغه جومات ته ځان ور برابر کړ. د وریژو له دیګیو سرپوښونه پورته شول، یو خوږ وږم هره خوا خور شو. اشپزان لګیا ول غوري یې ډکول او موږ په جمعه ودریدو. چې څنګه امام (وَلَا الضَّآلِّینَ) وواېه؛ نو د (امین) بدرګې جومات کې خوندور شور جوړ کړ. یوازې زه وم چې دا غږ مې خفیه بدرګه کړ چې دا کار راته په لوړ قیمت تمام شو.

ډوډۍ تیاره شوه، د وریژو غوریو ته دوه - دوه کسان ښه په اشتهاء کیناستو. تصادف، ماسره غوري ته هغه څوک کیناست چې لمانځه کې راسره اوږه په اوږه ولاړ و. لومړۍ، مړۍ مې ښه په خوند له ستوني تیره کړه؛ خو چې دویمه جوړه کړې مړۍ مې خولې ته را پورته کوله؛ نو راسره ناست سړي ورو او له نفرته په ډک انداز وویل: (امین بالجهر) ته دې خوله ماته وه او غټې غټې مړۍ وهې!

په منګول کې راپورته کړې تودې وریژې مې بیرته غوري کې پرېښودې، له جوماته په یو عالم نا هیلیو را ووتلم، جومات ته مې شاته شاته کتل او ویل مې:

**"ژوند ته په شاته شاته ګورم**
**لکه بایللی جوارګر چې کور ته ځینه"**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ